هفته نامه

اتحاد اسلامي

بیانگرآرمان اتحاد اسلامي افغانستان

شماره مسلسل «۲٤۷» سال هفتم شماره «٤۸» دوشنبه «۱۲» حوت - ۱۳۷۰ هش مطابق «۲۸» شعبان ۱٤۱۲ هـ ق ومطابق «۲» مارچ ۱۹۹۲ میلادي

PROPERTY OF ACKU

دکویټي په ښار کښي په سلګونو تنو قوماندانانو اوعلماؤ دیوې غونډې په ترځ کښي دملګرو ملتونو پنځه نقره ایز پلان سره خپل مخالفت څرګند کړ

دمیډیا خبري آژانس دبلوچستان دکویټي له ښار نه رپوټ ورکړي چي دخبر وري په ۲۷ نیټه ددغه ښار په ستلایت ټاون کښي دسل ګونو تنو مهاجرینو ، قوماندانانو او علماؤپه شمول یوغونډه جوړه شوي وه اودهغې په ترځ کښي دجهاد دمشرانو ، علماؤ قوماندانو ملا محمد نعیم ، قوماندان مولوي عبدالسلام ، قوماندان عبدالوارث ، قوماندان محمد جان اومولوي محمد حکیم غونډي ته وینااوي وکړي او دافغانستان دمسئلي دهواري لپاره یي دملګرو ملتو پنځه فقره ایز پلان ، بین الافغاني خبري اترې او دکابل کمونیست رژیم سره انتخابات په کلکه غندلي او ویلي یي دي چي ترڅو په افغانستان کي اسلامي حکومت نه وي راغلي افغان مهاجرین به د « بینن سیوان » په غیر عادلانه پروګرام باندي هیواد ته ستانه نشي .

دخبر مطابق په غونډه کي علماؤ او قوماندانانو پریکړه وکړه چي دملګرو ملتو دپروګرام په اساس دکابل ګوداګي رژیم سره انتخابات کول یا پخواني پاچا محمد ظاهرته په عبوري حکومت کي دګډون حق ورکول داسلام او مجاهدینو سره ظلم دي ځکه چي دوي دافغانستان دبربادۍ اوتباهي ذمه وار اودروسي پوځونو دراغوښتلو لوي مجرمان دي کوم چي مجاهدینو د یونیم ملیون شهیدانو په ورکولو دهیواد څخه په وتلو مجبور کړل .

شهریان کابل از بروز اختلاف بین رژیم وملیشه هاي حامي آن بسیار خوشحال اند

بگزارش خبر نگار اعزامي میدیا ازکابل ، رژیم کمونیست کابل در تدارك یك حمله ، گسترده علیه ملیشه هاي مخالف به رهبري جنرال مؤمن ، جنرال رشید دوستم و جنرال سید منصور پسر سید کیان است که اخیراً ازصف رژیم بریده و برضد آن فعالیت دارند .

خبرنگار اعزامي (میدیا) ازقول منابع آگاه رژیم مي افزاید : رژیم که براي اولین بار از سرکشي جنرالان مذکور ملیشه وتفاهم آنان با مجاهدینو در براندازي رژیم ازطریق نامه ، خصوصي جنرال جمعه احك آمر زون شمال ورئیس تنظیمه ، آن ولایت آگاهي یافت ، اکنون قوتي مرکب از افراد مسلح طرفدار رژیم در قطعات عسکري ولایت هلمند ترتیب وآنرا بکابل آورده ومسئولین رژیم پوشالي راسخت مصروف طرح ریزي یك حمله ، همه جانبه برملیشه هاي مخالف ساخته است .

بگزارش خبرنگار اعزامي میدیا ، شهریان کابل از بروز این اختلاف بسیار خوشحال

پوهاند «سیاف» د البنیان دخبري آژانس سره په ځانګړې مرکه کې :

د بنین سیوان هلي ځلي سرله پیله ناکامي ، غیرعملي اوپوارخیزي دي

زه نه پوهیږم چي بنین سیوان ته چا داحق اوصلاحیت ورکړی چي دافغان مجاهد اولس په وکالت دافغانستان دسرنوشت دټاکني په باب دلته اوهلته اوازونه پورته کوي؟

البنیان دخبري آژانس د عربي او انګلیسي برخو مسئولینو هریوولي الله «سلیم» او سلیمانشاه د افغانستان د اسلامي اتحاد د مجاهد امیر پوهاند عبدرب الرسول «سیاف» سره ورمه ورځ د ویاړلي افغانستان په یوه آزاده سیمه کي د بنین سیوان دوروستیو ګرځنده سفرونو ، دجهادي تنظیمونو ترمینځ د یووالي د لارو چارو ، دروانو حالاتو په نظرکي نیولو سره د قضیې د عسکري حل په امکان او دراتلونکي موقت حکومت لپاره داتحاد اسلامي

که زمونږ دري شرطونه ومنل شي مونږ کلي وحدت ته چمتو اودهغه ریاست ته کاندید نه یو

دتجویز او وړاندیز په رابطه یوه ځانګړې مرکه کړې چي تفصیل یي د اتحاد اسلامي داونیزي محترمو لوستونکوته په لاندي ډول وړاندي کیږي :

پوښتنه : تاسو ولي د ملګرو ملتونو پنځه فقره ایز پلان چي د ګاونډیو هیوادونو په شمول جهاد ته ځینو منسوبو خلکو هم دهغه د ملاتړ ناره پورته کړې مخالفت وکړ ؟

ځواب : داځکه چي داجهاد مونږ دخپل اقتدار او واکدارۍ لپاره ندی پیل کړی ، بلکې دامو داسلامي نظام دحاکمولو پخاطر شروع کړیدی اوددغه پلان د تطبیق په صورت کي ځمونږ اسلامي اهداف نه ترسره کیږي نو بناً دنیا وال دي له مونږ څخه دا تقاضا نکوي چي مونږ به دخپلواصولو څخه تنازل وکړو .

ځمونږ جهاد حق اولار مو رښتني ده اودهغه له بریالیتوب څخه هم ډاډمن یو .

پوښتنه : په ژنیو کي د بنین سیوان ددي وروستي بیان په هکله موڅه نظر دی په کوم کي چي هغه ویلي وو چي د اپریل دمیاشتي په وروستیو ورځوکي به یوه (۱۵۰) کسیزه شوریٰ جوړه شي ترڅو دافغانستان دبرخلیك په رابطه تصمیم ونیسي ؟

ځواب : زه نه پوهیږم چي بنین سیوان ته چا داحق اوصلاحیت ورکړی چي دافغان مجاهد ولس په وکالت دافغانستان دسرنوشت دټاکني په باب دلته اوهلته اوازونه پورته کوي ؟ دا جهاد اودا اولس دومره بي عزته اوسپك ندی چي د بنین سیوان غوندي خلك هغه ته شوریٰ جوړه کړي اوبایي سرنوشت وټاکي ، د بنین سیوان هلي

حاجي محمد دوران « ستانیزی » داتحاد اسلامي اونیزې سره په مرکه کښي :

مونږتر اوسه په دې نه یو توانیدلي چي دامو جوده جهادي تنظیمونه سره یو کړو که افغانستان په قومونو وویشل شي بیابه داستونزه څنګه حل کړای شو ؟

په دي وروستیو وختونوکښي دځینو غربي راډیو ګانو لخوا دملګرومللتونو دپنځه فقره ایز پلان دتائید په اړه ځینو کسانو سره مرکي کیږي چي دقومي تعصب اواختلاف رنګ لري مونږ ددي موضوع دزیاتي توضیح په منظوروستانیزیو دقوم یوتن مجاهد سپین ږیري(الحاج محمد دوران) سره مرکه کړي چي دګرانو لوستونکو دخبرتیا لپاره یي نشر کوو.

محترم ورورحاجي صاحب محمددوران !

تاسودقومي سپین ږیرتوب اوڅوارلس کلن هجرت اوجهاد دتجاربو په رڼاکي لطفاً زمونږځو پوښتنوته ځواب ووایئ .

پوښتنه : په دي وروستیو وختونو کي دقومي اتحادیو او ولو ټپلو په نوم یوځه فعالیتونه روان دي ، تاسو په اوسنیو شرایطوکي ددي قومي اتحادیو جوړول څنګه بررسي کوي ، یعني داچي ستاسي په نظریه ددي اتحادیو عوامل څه اوددي اثر به په روان جهاد څه وي ؟

ځواب: دافغانستان مسلمان ولس دیوعالي مقصد لپاره چي دکفري نظام نسکوریدل اوپه عوض یي په افغانستان کښي دیو سوچه اسلامي حکومت جوړول دي ، دخداي په حکم یي له کوم نژادي ، قومي ، لساني اومنطقوي تبعیض څخه جهاد في سبیل الله پیل اوټول مسلمان ورونه یو دبل په خواکښي ددي مقصد دتکمیل لپاره په تش لاس او وږي نس ددنیا دلوي کفري طاقت په مقابل کښي ودریدل .

امریکا اوډېري نورو کفري طاقتونو چي دجهاد په اوږدو کښي‌له مجاهدینو سره کومه خواخوږي ښکاره کوله ددي لپاره نه وه چي ګواکي دوي په مسلمانو زړه سوي درلود بلکي داد دي په خاطر ؤ چي روسانو ته چي ددوي رقیبان ؤ دافغانستان دمسلمان ولس په وسیله حه مزاحمت ودرد سرایجاد کړي . خوالحمدلله مسلمانان په دي وتوانیدل

دجهادله مشرانواومجاهدینونه زماغوښتنه داده چي خپل اختلافات دې یوې خواته کیږدي اوپه افغانستان کښي دې داسلامي حکومت دټینګېدولپاره خپل صفونه متحد کړي « حاجي شیرعلم »

په دي وروستیو وختونوکښي دپغمان دمجاهدینو قوماندان حاجي شیرعلم پېښورته راغلی اوداتحاد اسلامي اونیزي سره یې مرکه کړې چي ګرانو لوستونکوته یې وړاندې کوو :

پوښتنه : محترم حاجي صاحب تاسې یوداسې مجاهد په صفت دافغانستان دقضیې دسیاسي حل په هکله دملګرو ملتونو دپنځه فقره ایز پلان اوپه مؤقته دوره کښي ظاهرشاه ته دقدرت دسپارلو په هکله څه وایئ ؟

ځواب : دافغانستان دقضیې دسیاسي حل په هکله چي ملګروملتونوکومه پنځه فقره ایزه طرحه وړاندي کړې ده اودهغې په اساس غواړي دمجاهدینو اونجیب ترمینځ دخبرواترولاره هواره کړي زمونږلخوا په جدي توګه رد ده داځکه چي مجاهدین هیڅکله هم دې ته نه حاضرېږي چي داسلام ددښمنانو او دهیواد دیونیم ملیون شهیدانو له قاتلانوسره خبروته کښېني .

درحمت ، مغفرت اونجات میاشت

بیهقي دحضرت سلمان فارسي رضي الله تعالی عنه په روایت حدیث رانقل کړي دي چي وائي رسول الله صلي الله علیه وسلم دشعبان په وروستي نیټه کښي یوه خطبه واوروله ویې فرمایل :

« اي خلکوا یوي لویي میاشتي پرتاسي خپل سیوري غوړولي دي . دابرکتناکه میاشت ده ، هغه میاشت چي په هغې کښي یوه شپه داسي شته چي له زرو میاشتوڅه بهتره ده . الله تعالی ددي میاشتي روژي فرض ګرځولي دي اوددي په شپو کښي لمونځونه (تراویح) یې نفل ګرځولي دي . چاچي په دي میاشت کښي د الله درضاء حاصلولو له پاره د نیکي کوم کارترسره کړ دومره ثواب لري لکه چي په نورو ورځوکښي یي یوفرض اداکړي وي اوچاچي په دي میاشت کښي یوه فریضه اداکړه دومره ثواب لري لکه چي په نورو ورځوکښي اویا (۷۰) فریضې اداکړي وي . رمضان دصبر میاشت ده اودصبر ثواب جنت دي . دامیاشت یوله بل سره دهمدردي اوخواخوږي میاشت ده . داهغه میاشت ده چي په هغې کښي دمؤمن روزي پراخیږي، که څوك په دي میاشت کښي یو روژتي ته روژه ماتي ورکړي نودابه دهغه دګناهونو دبښل کیدو اود دوزخ له اورنه دهغه دنجات میندلو وسیله وي او دومره اجر اوثواب وروکول کیږي څومره چي هغه روژتي ته دروژي په نیولو ورکول کیږي . بي له دي نه چي د روژتي په ثواب کښي څه کمبود راشي .

حضرت سلمان فارسي رضي الله تعالی عنه وائي چي مونږصحابه ؤعرض وکړ :

یارسول الله ! مونږ هریو خو ددې وس اوطاقت نه لرو چي یو روژتي ته روژه ماتي ورکړو؟ رسول الله صلي الله علیه وسلم وفرمایل :

« الله تعالی به داثواب هغه چاته هم په نصیب کړي چي دروژه ماتي له پاره یو روژتي ته یو غړپ شیدي ، یوه دانه خرما یایوغړپ اوبه ورکړي . اوڅوك چي یو روژتي ته په مړه ګیډه خواړه ورکړي نو الله تعالی به هغه زما دحوض کوثر په اوبو سیرابه کړي بیابه ترهغه پوري تږي نشي ترڅو چي جنت ته داخل شي - اوداهغه میاشت ده چي لومړي لسیزه یې رحمت منځنۍ لسیزه یې مغفرت او وروستي لسیزه یې د دوزخ له اوره آزادي ده . اوچاچي درمضان په زمانه کښي ترخپلو لاس لاندي خلکو سره په خدمت کښي له سهولت نه کار واخیست الله تعالی به هغه ته مغفرت وکړي او د دوزخ له اورنه به نجات ورپه برخه کړي » .

دافغانستان داسلامي اتحاد مستحقو منسوبینو ته د صوابي په کمپ کي دعضویت کارتونه وویشل شول

دپنجشنبې په ورځ چي دحوت دمیاشتي له ۸ سره برابره وه د صوابي په کمپ کښي اسلامي اتحاد پوري مربوطو معلمینو ته دعضویت کارتونو دورکولو په مناسبت ددعوت او ارشاد ریاست دتنظیم او تربیت دکمیسیون له خوا یوه درنه غونډه جوړه شوي وه . غونډه دقرآن عظیم الشان دڅو مبارکو آیتونو په تلاوت سره پیل وریسې دامنیت دچارو رئیس محترم سیدعمر منیب دغونډې برخه والو ته دخپلې وینا په ترځ کښي دمسلمانانو ترمینځ دغونډو ، سیمینارونو او حلقاتو په جوړیدو تاکید وکړ او داسلام هدف یې ددې غونډو جوړیدو څخه په پنځو مختصرو شیانو « تعارف ، دعلم زده کړه نورو ته ښوونه ، تفاهم ، تکافل او تضامن او نظم او نسق » کي یې وځېړه او زیاته یې کړه : تعارف یا پیژندګلوي ددعوت تهذیب او بنسټ دي . په

ناامید نشوید زیراشدت یافتن سختیها پیام آور صبح پیروزی است

استاد «سیاف»

هفته نامه

اتحاد اسلامی

بیانگر آرمان اتحاد اسلامی افغانستان
صاحب امتیاز : اتحاد اسلامی افغانستان
سال تاسیس : عقرب ـ ۱۳٦٤
ناشر : بخش فرهنگی ریاست دعوت وارشاد

دفیوضاتو او برکتونو میاشت

داده یوځل بیا درمضان المبارک میاشت راغله ، دخیر او ښیګڼو میاشت ، دفیوضاتو او برکتونو میاشت دګناهونو درژیدو او دثوابونو دزیاتیدو میاشت . ددي میاشتي عبادت یعني روژه نه دژبي په ویلو سره سرته رسیږي ، نه دبدن په حرکاتو سره اونه مالي تکلیف دي بلکي یوروحي ارادي عمل دي ، په ظاهره سیلي او په حقیقت کښي ایجابي . په ظاهره کښي له خوراک ، څښاک او نفسي خواهشاتو ځخه پرهیز دي په حقیقت کښي هغه نیت او تصمیم دي چي دهر فعل او ترک یعني کولو او نه کولو دمفتاح او بنسټ معني لري .

دغي فریضي دسرته رسولو له پاره چي په اسلام کښي کومه میاشت ټاکل شوي ده . په هغي کښي مالک الملک ذات پر خپل غوره بنده محمدمصطفی صلوات الله وسلامه علیه باندي خپل مبارک کتاب ددنیا او اخرت دنجات او فلاح وسیله قرآن مجید نازل کړي دي .

موږ دروژي په رازونو ، حکمتونو او ښیګڼو باندي هله پوهیداي شو چي لومړي انساني مقام وپیژنو ، آیا انسان همدغه ولاړه جوثه ده ، همدغه جوړه شوي ډانچه ده همدغه دپوستکي ، غوښي ، هډوکو ، وینې ، رګونو ، لري او کولو مجموعه ده ؟ که همداوي نو بیا خو ډیر حقیر موجود او بي ارزښته هستي ده ، حقیقت داذي چي انسان همدغه محسوس هیکل او ډانچه نده بلکي اسماني روح دي چي په ځمکني قالب کښي اوسیږي ، په خټین کالبد کښي دپاسني نړۍ رمز او راز دي ، دالهي دروح او روحاني لوړمقام لامله حضرت ادم (ع) دپرښتو مسجود شو ، نه دخپمره شوي خټي په برکت . په قرآن کریم کښي داسي شوي ویل شوي چي کله چي ماله خټي نه ادم جوړ کړ نو اي پرښتو تاسي ورته سجده وکړئ ، بلکي په دي مفهوم ویل شویدي چي : « کله ماهغه برابر کړ او خپله روح مي په کښي پو کړ نو تاسي ورته سجده وکړئ ».

انسان روح او جسد دواړه دي ، دجسد غوښتني یي له لاندیني نړۍ ځخه او دروح غوښتني یي له پاسني نړۍ ځخه دي ، کله چي روح دجسد دغوښتنو تر اغیزي لاندي راشي نو دحیوانیت درجي ته راټیټیږي او کله چي روحانیت په کښي غالبیږي او انسان دخپل ځان قیمت پیژني ، پخپل ځان کښي دالله رمز او راز درک کوي ، سماوي اړخ یي پرځمکني اړخ باندي حکومت کوي نو په دي صورت کښي دمخلوقاتو غوره جزء ترې جوړیږي .

الله تعالي روژه نیول دهمدي له پاره فرض کړي دي چي انسان دنفس او حیواني غرایزو له تسلط نه آزادشي ، دجسد له زندان ووځي ، پرشهواني غوښتنو غالب شي خپل خټین کالبد دخپلو روحاني مدارجو استوګنځي وګرځوي نو پدي ترتیب کیدي شي دروژي روح پاسني نړۍ ته نژدي وي ، داسمان دروازي ورته پرانستل شي ، خپل رب ته ددعا لاسونه پورته کړي اوهغه یي قبوله کړي او دهغه حدیث مصداق وګرځي چي ترمذي ، احمد ، ابن ماجه ، ابن خزیمه او ابن حبان رانقل کړي دي اوهغه کښي رسول الله صلی الله علیه وسلم په دي مفهوم فرمایلي دي : « دري کسان دي چي دهغو غوښتنه نه ردیږي : دروژي تر څو چي افطاروکړي ، دعادل زمامدار او دمظلوم فریاد ... »

روژه دارادي دپوخوالي او دصبر اوزغم ډیرښه درس دي ، روژتي دږي کیږي او خواړه یي په مخ کښي ایښي دي ، تږي کیږي او اوبه ورته موجودي وي ، نفسي خواهش ورته پیداکیږي او دهغه په پوره کولو برلاسي وي اوله پروردګار نه پرته یي بل هیڅوک ځارونکي نه وي ، له خپل ضمیر او وجدان نه پرته بل څوک وریاندي مسلط نه وي ، اودهغه اړتیایي له سهاره ترماښامه وي ، یوه ورځ دوه ورځي نه بلکي پوره یوه میاشت څو بیا هم دده په اراده او عزم اودده په صبر اوزغم کښي څه سستي او کمزوري نه راځي نو څومره ښه مدرسه ده چي دانسان اراده او تصمیم روزي ، په داسي شان چي دسختیو او کړاوونو تحمل وکړای شي او دموفقیت او کامیابي خوانه مخ په وړاندي لاړشي .

روژه دجهاد او مبارزي ښه سبق دي ځکه چي دجهاد لومړني وسله صبر او زغم اومحکمه اراده ده ، څوک چي له خپل نفس سره جهاد ونکړي شي ، دهغه غوښتني مهار نکړي شي هغه به له دښمن سره څنګه جهاد وکړي شي ، څوک چي پرخپل نفس برلاسي نشي هغه به پردښمن څنګه غلبه ومومي ، څوک چي لوږه ، تنده ونشي زغملي هغه به ددښمن ګوزار ته خپله سینه څنګه سپر کړای شي ، څوک چي له خوراک څښاک نه بیلتون ته تن ورنکړي شي هغه به له کور کلي وطن نه جدایي ته څنګه تن ورکړي شي ؟

دروژي دلویي تندي په لیدلو سره له یوي خوا روژتي دخپل پروردګار دنعمتونو قدرپیژني ، دخوراکي موادو په ارزښت انسان هله پوهیداي شي چي لوږه پري راشي او داوبو قدر هله ورته معلومیږي چي دتندي سختي وریاندي راشي او دخداي دذکر او شکر حالات هم همدغه دي لکه چي ترمذي په روایت یوحدیث کښي رسول الله صلي الله علیه وسلم په دي مفهوم فرمایلي دي : « الله تعالي ماته داپیشکش وکړ چي دمکي غرونه راته سره زر وګرځوي خو ما عرض وکړ : « نه ، اي زما ربه ! زه داخوښوم چي یوه ورځ په ماړه نس وخورم او بله ورځ په لوږه تیره کړم ... کله چي وږي شم تا ته تضرع وکړم اوستا یادونه وکړم او کله چي ځان موړ کړم ستا شکر اداکړم او ستا ثنا ستاینه وکړم » له بلي خوا دروژي اجتماعي رازونو سره آشنا کیږي ځکه چي لوږي په لیدلو سره یي فقراؤ او بیوزلونه پام ور اوړي ، بي دڅا له ویناو او نصیحت څخه بلکي دمعدي د آواز په اوریدو سره ، څوک چي ټول عمر په نازنعمت کښي تیروي او لوږه تنده نه ویني ، کیداي شي فکر وکړي چي ټول خلک دده په شان دي او دي چي څه خوري او څښي نور به یي هم خوري څښي مګر کله چي په روژه کښي دلوږي تکلیف محسوس کړي نورو ته یي هم پام شي چي په دي ټولنه کښي څومره محتاج او بیوزلي کسان ژوند کوي ، نو دغه وخت دي چي هغو ته دمرستي او معاونت لاس ورغځوي ، دغمشریکي او خواخوږي جذبه یي را پاریږي او دخداي پر بندګانو ترحم او زړه سوي کوي او دخداي (ج) درحمت غیږ ورته پرانستل کیږي ، دحدیث شریف مفهوم دي : « پر رحم کوونکو باندي مهربان خداي رحم کوي ، تاسي دځمکي پرخلکو باندګ رحم وکړئ ، ترڅو چي هغه ذات پرتاسي رحم وکړي چي په اسمان کښي دي یعني پورته او لوړ ذات ».

مرم

راستګویان دعوت اسلامی

قاضي ګل جان «

ذات اقدس إلهي جلت عظمته ضمن آیات کریمه متعدد از قرآن عظیم الشان ایمان وعمل صالح را توأم ومتصل همدیگر ذکر فرموده وچنین بیان داشته است که ایمان وعمل صالح لازم و ملتزم یکدیگرند اسلام عزیز به عمل صالح آنقدر تاکید فرموده که عوامل پیروزي وذلت مسلمانان را نیز اعمال خود آنها خاطرنشان نموده است .

بنابرآن اگر ما واقعاً خود را ازجمله داعیان راه حق و مجاهدین راه الله (ج) مي شماریم ، اگر واقعاً خواهان حکومت عدل إلهي در روي زمین هستیم باید اولتر ازهمه خود مان از دستورات والاي اسلامي به صورت کامل پیروي نموده احکام سودمند شریعت غراي اسلامي را بالاي خود عملاً تطبیق ونافذ کرده تمام ابعاد زندګي خویش را به مقتضاي عقیده وایمان عیار وخودمان نمونه ومثل زنده وعملي اسلام عزیز وزندګي سازباشیم .

به همه ما مسلمانان واجب وضروریست تا هرکدام مان نقش قدم پیامبر بزرګوار اسلام حضرت محمد (ص) ویاران واصحاب پاک طینتش را تعقیب نمائیم .

ومنجي بشریت رحمة اللعالمین (ص) وتربیت یافتګان مکتب پرعظمت وزندګي ساز اسلامي اش هرکدام داعي ومجاهد راه حق بودند که قوانین سودمند اسلامي عملاً درزندګي شباروزي شان حکومت میکرد وآنها به واسطه عمل صالح مردم را به اسلام دعوت میکرد پیامبر بزرګوار اسلام چیزي که مي فرمودند اولاً ازهمه مقدمتر خودش به آن عمل نموده ودرصحنه عمل به مردم نشان میداد چیزي که ګفتار مبارکشان بود همان چیز عمل شان نیز بوده بلکه اکثر اوقات عمل مبارکشان برګفتار وبیانات ګهربار شان ګراني مینمود

یک روز شخصي ازحضرت ام المؤمنین حضرت بي بي عایشه صدیقه (رض) پرسید که سیرت واخلاق پیامبر علیه وسلم چطور بوده بي بي مبارک درجواب ګفت «کان خلقه القرآن » یعني رویه وکردار آنحضرت صلي الله علیه وسلم قران کریم بود چیزیکه ضمن آیات کریمه قرآن کریم ذکر ګردیده همه، آن را رفتار وکردار آن جناب (ص) طور عملي موجود ومنعکس بود .

نبي کریم صلي الله علیه وسلم اګر مسلمانان را به شکیبایي واستقامت دربرابر دسایس ومؤامرات دشمنان اسلام توصیه مینمود اولتر ازهمه خودش وقتي از طرف کفار ومشرکین ذریعه ابوطالب عم آنحضرت (ص) برایش پیشنهاد شد که اګر پادشاهي میخواهي برایت میدهم واګر پول ودولت میخواهي برایت میدهم واګر دوشیزه ګان ودختر جوان میخواهي برایت میدهم بشرط آنکه بتان ما را بدګویي نکني وازدعوت بسوي حق ویکتاپرستي دست برداري آنحضرت صلي الله علیه وسلم با ایمان راسخ وایمان فولادین درجوابش میګوید قسم به ذاتي که نفس محمد «ص» در ید قدرت اوست هرګاه افتاب را دردست راستم ومهتاب را دردست چپم بګذارند بخاطر اینکه از این کار خود یعني دعوت بسوي حق منصرف شوم قبول نخواهم کرد یعني ازدعوت بسوي حق ومبارزه را در راه آن دست نخواهم کشید تا آنکه یا پیروز خواهم شد ویا در این راه کشته شوم پیامبربزرګوار اسلام اګر مردم را به جهاد ومبارزه تشویق وترغیب مي نمود خود آنجناب (ص) خودش عملاً شمشیر بدست ګرفته درمیادین قتال وغزوات علیه کفار ومشرکین اشتراک مي فرمودند در غزوه احد درحالیکه درمیدان جنګ تنها مانده

ودندان مبارکش به شهادت رسید کا کاپش حضرت حمزه (رض) به شهادت رسیده وجود مبارکش جراحات برداشته ولي بازهم باکمال مردانګي وقاطعیت به اصحاب خود میفرماید میګوید به پهلوي من بیائید به همین ترتیب حضرت پیغمبر صلي الله علیه وسلم اګر مسلمانان را به وحدت ویک پارچګي دعوت مي نمود خودش نیز حضرت به سهیل رومي ، بلال حبشي وسلمان فارسي وامثال شان را بر نزدیک ترین اقارب ودوستان خود مقدم تر شمرده تا اندازه که آنها را ازجمله اهل بیت خویش مي شمرد آنحضرت (ص) اګر مؤمنین را به دادن ذکات وصدقه وکمک ومعاونت همراي فقرا ومساکین حکم میفرمود اولتر ازهمه خودش این مسئولیت عظیم اسلامي را چون سائر احکام دین مقدس اسلام عملاً اداء نموده خودش ګرسنه میبود ولي مسکینان را سیر مي نمود تا اندازه ایکه آن حضرت (ص) در طول عمر مبارک خود ، خود را سیر نه نموده یک روز ګرسنه مي بود وروز دیګر نیم شکم آن هم اکثر اوقات به نان جو ، ماه ها ماه ها مي شد که درخانه یکي ازبي بي ها هم دود بلند نمي شد این نمونه مختصر بود که ازسجایاي عالي آقاي نامدار ومحبوب ګردګار ذکر ګردید

کتاب وصف ترا آب بحر کافي نیست
که سرانګشت ترکنم وصفحه برشمارم

یکي از امثال وقسمت به ارشادات والاي اسلامي بود که آنها را کمترین وقت بزرګترین امپراطوري هاي طاغوتي آن زمان را ازپا درآورده بساط فتنه وفساد وکفر واستبداد را برچیده حکومت عدالت ګستر اسلامي را جزیرة العرب قایم صداي خیر وفضیلت را بګوش جها نبان رسانیده بزرګترین تمدن وفرهنګ اصیل اسلامي را اساس ګذاشتند .

ادامه دارد

رقابت های اقتصادی

«نابلیار»

عصر امروزي که پیوسته به ختم جنګ سرد جهاني اتفاق افتاده یک عصر نوین رقابتي بوده که بادرنظرداشت آن کشورهاي جهان میخواهند تا درمقابل یکدیګر برتریت اقتصادي شانرا هرچه زودتر حاصل نمایند ، روي همین ملحوظ به صراحت میتوان ګفت که آزاد شدن کشورهاي آسیاي میانه ازتسلط حکومت مرکزي شوروي دګرګوني هاي تازه، اقتصادي وسیاسي را براي جهانیان بار آورده است ، لهذا فعلاً سایر ممالک جهان مخصوصاً کشورهاي همجوار آن اندیشه بالادستي ونفوذ براین کشورها را داشته وبه این ترتیب امیدواراند تابه هرنوع ممکنه پیش قدمي اقتصادي وسیاسي شانرا در زمینه حاصل نمایند ، چنانچه انعقاد سازمان اقتصادي کشورهاي آسیائي که دراین اواخر اولاً درترکیه ومعاقباً درایران منعقد ګردید ګواه این حقائق است .

سازمان اقتصادي کشورهاي آسیائي (۲۷) سال سابقه دارد و درګذشته مخصوصاً در زمان شاه ایران بنام سازمان (R.C.E) مسما بوده است ، اما سازمان مذکور ازسال (۱۹۸۵) بدینسو توسط کشورهاي بنیاد ګذار این سازمان یعني پاکستان ، ایران وترکیه بنام سازمان (A.Q) نام ګذاري شده است ، لهذا مطلب ازآن هم آهنګي تجارتي بین کشورهاي آسیائي بوده که درآینده قریب ازبین بردن محصولات تجارتي فی مابین وتشکیل بازار مشترک کشورهاي آسیایي را بشمول یک بانک مشترک آنها که داراي سرمایه چهار صد ملیون دالري نیز خواهد بود احتوا، مي نماید .

درحالیکه انکشاف اقتصادي کشورها براي تامین صلح وامنیت درمنطقه وجهان خیلي ها موثرمي باشد ، لهذا رشد سازمان هاي اقتصادي کشورهاي آسیائي که فعلاً بنام (AQ)مسما ګردیده باعث آن خواهد شد تا در درازمدت این کشورها به اروپا مرتبط سازد .

شاملین سازمان (AQ)که تعداد شان پیوسته به انعقاد این سازمان در ایران که درآن کشورهاي آسیاي میانه مانند ازبکستان ، آذربایجان وترکمنستان نیز منحیث عضو پذیرفته شدند تا فعلاً درمجموع حیثیت ناظر درکنفرانس را داشتند که احتمالاً آنها نیز درکنفرانس بعدي که در ترکیه منعقد خواهد شد ومیزبان پروګرام آن پاکستان خواهد بود عضویت این سازمان را حاصل خواهند کرد .

کشورهاي شامل درسازمان اقتصادي (AQ) نمیخواهند که دراین عصرکه جنګ سرد خاتمه یافته وجنګ اقتصادي تازه آغاز ګردیده ازکشورهاي جهان مخصوصاً ازکره، جنوبي ، جاپان وبالآخره امریکا پس مانده شوند ، روي همین ملحوظ یګانه راه پیشرفت این کشورها را ازبین بردن محصولات تجارتي في مابین وتشکیل بازار مشترک کشورهاي آسیایي یکي بعد دیګر اجرا مي نماید .

ممالک آسیاي میانه درحالیکه هیچنوع امید اقتصادي از روسیه مرکزي ندارند ودرآینده نیز نخواهند داشت ، لهذا میخواهند تا با درنظرداشت رشد سازمان اقتصادي کشورهاي آسیائي که آنها نیز عضو آن اند پیوسته به سرمایه ګذاري هاي ایران ، ترکیه و با الآخره پاکستان درکشورهاي شان باوصف آنکه آنها مواد خام کافي نیز دارند ازبحران اقتصادي موجوده نجات یابند .

ازجمله، کشورهاي آسیاي مرکزي ازبکستان داراي طلا ، تاجکستان داراي یورانیوم هسته ئي ، آذربایجان ، قزاقستان وترکمنستان داراي نفت مي باشند ، لهذا کشورهاي مذکور سعي خواهند کرد تا بادرنظرداشت مواد دست داشته، خود روي اقتصاد تجارتي خویش بایستاند .

تاجکستان درحالیکه خواهان تحکیم روابط اقتصادي وسیاسي باکشورهاي آسیائي ، اروپائي وبالآخره چین مي باشد ، لهذا باید ګفت که کشورمذکور با چین درحدود (۵۰۰) کیلومتر رابطه، مرزي دارد وبه این ترتیب حیثیت دروازه، تجارتي را براي چین در آینده قریب خواهد داشت .

چندین کشور مخصوصاً ایران وترکیه درمورد نفوذ اقتصادي وفرهنګي شان درخصوص کشورهاي آسیاي میانه باهم رقابت ماهرانه دارند .

ایران درحالیکه داراي سرحدات وسیع وطویل باکشورهاي آسیاي میانه است ، بلکه داراي علائق مذهبي نیز با بعضي از آنها مخصوصاً با آذربایجان مي باشد ، ایران باوصف آنکه در صدد تمدید خط پائپ لین نفت وګاز آنکشور به اوکراین ازطریق آذربایجان وتاجکستان درآینده خواهد بود ، بلکه در مورد استحکام روابط خویش با آذربایجان تازه آزاد شده احتیاط کامل را ازدست نخواهد داد ، زیراکه خطر وصلت آذربایجان تحت سلطه، ایران با آذربائیجان آسیاي میانه بنابر مسایل ملیت ګرائي در درازمدت محسوس است .

ایران نګران حصول بالادستي ها در سازمان (AQ) بوده ومیخواهد که محور اصلي این سازمان قرارګیرد .

ایران باوصف آنکه درسرک سازي بمقایسه پاکستان خیلي ها ماهراست ، اما ایشان آرزو دارند تا دوام تجارت آنکشور به ممالک آسیاي میانه ازطریق هوا وخط ریل تشدید یابد .

درحالیکه مقامات واشنګتن به کشورهاي آسیاي مرکزي هوشدار داده است تا ازتحکیم روابط شان با ایران انقلابي خود داري ورزند ، بادرنظرداشت آن ترکیه که یکي ازهم پیمانان امریکا درمنطقه محسوب مي شود درصدد آن است تا در رابطه به استحکام روابط این کشورها با امریکا حیثت میانجي رابخود کسب نماید .

ترکیه علاقمند است که رژیم سکولریستي آنها که درآن دین ازسیاست مجزا قرارداده شده وداراي نوعیت غربي

مرم

په نایجیریاکښې دمبارزو مسلمانانو ورځ په ورځ خواکمن کیدل

محمدنصیر«مدثر»

نایجیریا د ۱۲۰ ملیونو نفوسو په درلودلو سره چي له اویا فیصده څخه زیات وګړي یي مسلمانان دي ، په لویدیځه افریقا کښي یوستر مسلمان میشت هیواد دي . دغه هیواد په کلونو کلونو د انګلیس داستعماري واکمني لاندي ؤ او بالاخره د ۱۹۷۰ میلادي کال د مئي په موسم کښي له یولږ پراخو اوسترو مبارزو څخه وروسته خپلواک شو . دنایجیریا دهیواد واکمنان اکثراً پوځیان دي .

نایجیریا اودلویدیځي افریقا نورو هیوادونو ته د اسلام دورتګ اوپراختیا تاریخچه ، اتمي میلادي پیړي ته رسیږي په دي هکله بیل بیل نظریات موجود دي خو زیاتره تاریخ لیکونکي په دي عقیده دي چي اسلام د اتمي پیړي له لومړیوڅخه راوروسته په دغي سیمه کښي وده کړي ده . کله چي دغه بختور دین د مسلمانانو سوداګرو په وسیله هلته منتقل شونو د سیمي دخلکو لخوایي تود هرکلي وشو اوډیر ژرپي پراختیا وموند. دسوداګري په پیدایښت اودسوداګري دمهمو ښارونو په میشتې ته راتلو سره ددغو ښارونو داوسیدونکو څخه زیاتره دمسلمانانو تراغیزي لاندي راغلل،په اسلام اوپه واحد خداي باندي یي ایمان راوړ .

د نایجیریا خلکو د اسلام دین ته د یوداسي دین په توګه کتل چي د انسان مادي اومعنوي اړخونه یي په نظرکښي درلودل په داسي حال کښي چي سیمه ایزو رواجي ادیانو دغه دوه اصلونه له یوبل سره نه یوځاي کول . دغه وخت تاریخ ته په یوي کښتي سره داحقیقت ثابتیدلای شي چي په دغي سیمي کښي د اسلام په معرفي کیدلو سره یوشمیر وګرو سوداګري ته مخه وکړه اوداکار دهیواد د اقتصادي ودي اوپرمختیا ، د کورنیو داقتصادي وضعي دبدلون اوپه نتیجه کښي اسلام ته دخلکو د مخ په زیاتیدونکي ګروهني سبب شوي دي .

اسلام دنویو ژوندنیو تګلارو په درلودلو سره دیوه نوي دین په توګه چي دیشر دارتیا وړغښي فرهنګ لري د موجودو ستني ،مسیحیت اوبت پرستي ادیانو ځاي نیوونکي شو اوپه ډیر سرعت سره د سیمي دمختلفو قومونو او د هوسایي، ژبو خلکو دمنلو وړوګرزید اوبیا په تدریج سره د ۱۷ پیړي په لومړیو اود ۱۸ پیړي په وروستیو کښي د نایجیریا دخاوري ټولو برخوکښي خپورشو .

دنایجیریا دتاریخ په اوږدو په تیره بیا په وروستي لسیزه کي د اسلام موقعیت د زیات غور اوسوچ وړدي . په دغه هیواد کښي لومړي اسلامي حرکتونه تقریباً د ۱۸ پیړي په وروستیو اود ۱۹ پیړي په لومړیو کښي د « شیخ عثمان دن فودیو » په دوامداره هلوځلو سره پیل اواسلامي حکومت په اقامي باندي منجرشول .

دنایجیریا داسلامي نهضت نامتو شخصیت « عثمان دن فودیو » په لویدیځه افریقا په تیره بیا نایجیریا کښي داسلام د نوي فصل سریزه ده .

« عثمان دن فودیو » په ۱۷٥٤ میلادي کال کښي د نایجیریا په شمال د « جوبیر » په سیمه کښي دنیاته راغي . اسلامي علوم لکه فقه ، اصول اوعربي ادبیات یي د « تالام جبریل » په څیرنامتو استادانو څخه زده کړل . د « تالام جبریل » له دي نه وراندي د « هوسا » پاچا په مقابل کښي دجهاد اعلان کړي ؤ . شیخ عثمان لومړي خپل تعلیمات د « جوبیر » خلکوته وړاندي کړل اوپه دغي سیمه کښي دزیات شهرت اونوم څښتان شو . په داسي دول چي حتي د « جوبیر » پاچا د زاقاتا، له هغه نه غوښتنه وکړه څو دپاچا د اولادونو روزنه په خپله غاړه واخلي . قدرت ته د « یونفا » له رسیدلو وروسته ددغي سیمي مسلمانانو ترپوحده له ستونزو سره مخامخ شول داځکه چي نوموړي له حجاب څخه دښځو اوله پټکي څخه د نارینه ؤ استفاده ممنوع اعلان کړي وه . شیخ عثمان له دغي مسئلي نه په نایجیریاکښي د یوعمومي جهاد لپاره

زمینه مساعده ولیده اوپه ۱۸۰٤ میلادي کال کښي یي د « یونفا » اونورو پاچاپانو پرضد په شمالي سیمه کښي جهاد اعلان کړ اودهغه رهبري یي هم په خپله غاړه واخیسته . د مسلمانانو دغه مشر په ډیر سرعت سره دشمالي سیمي پاچاپانو ته ماته ورکړه اوپه هغه ځاي کښي یي یو اسلامي حکومت جوړکړ .

په همدغه وخت کښي د شیخ عثمان یوشمیر شاګردانو په سنیګال ، ګانا ، سودان اوزامبیاکښي یوتعداد آزادي بښونکي حرکتونه په لاروا چول . په سیمه کښي د اسلام غوښتني ددغي ځپي لامله د استعمارګرانو دواکمني اوګټو دوام له جدي تهدید سره مخامخ شو . همدالامل ؤ چي ښکیلاک ګرو تصمیم ونیو څو ددغو حرکتونو مخه ونیسي اوپه نطفه کښي یي خنثي کړي اوپرښدي چي د د ویښ اوسه ، دغه زنګ دمستعمراتو دنورو اوسیدونکو غوږونو ته ورسیږي .

ددي په تعقیب انګلیسي برغلګرعسکر د سمندر له لاري غربي سیموته چي له مرکز سره د لري واټن اوجغرافیایي وضي په دلیل دمرکزي حکومت له کنټرول نه لري پاتي ؤ ، ورننوتل . یرغلګروځواکونو ښارونه اوسیمي یوپه بل پسي اشغال کړي . د شمال په مسلمان میشتو سیموکښي خلکو دپردیو یرغلګرو ځواکونو په وړاندي مقاومت وکړ . خو انګلیسانو اسلامي حجاب ، اسلامي ټولنو جوړولو ، دجمعي اوجماعت لمونځونو اداکولو اوهمداراز په ظاهره داسلامي حاکمانو ټاکلو اوبالآخره دمسلمانانو ترمینځ دجدايي اواختلاف په رامینځ ته کولو سره په تدریجي توګه دهغوي مقاومتونه مات کړل .

بالآخره د « شیخ عثمان دن فودیو » اسلامي حکومت د پوځي یرغل اودانګلیسانو د توطئو اوپي لاري کوونکو تبلیغاتو په وسیلي سره سقوط وکړ اودنایجیریا مسلمان هیواد دانګلیستان په غربي مستعمراتو پوري وتړل شو .

له دي نه وروسته انګلیسانو د شیخ عثمان د آثارو اوفکري ډګرونو په له مینځه وړلو اودمسلمانانو په عمومي ټولنو باندي په یرغل سره ، د اسلام ددغه ستر عالم ټولي ارزښتناکه لیکني له مینځه یوړي اودمذهبي میسونرانو په رامینځ ته کولو سره یي کلیسا ګاني جوړي کړي . انګلیسانو له هغي فکري خلا نه په استفادي سره چي دمسلمانانو لپاره مینځ ته راغلله دخانقاؤ په ځواکمنولو اودصوفیانو په روزنه لاس پوري کړ اوپه دي توګه یي تربوي مودي پوري اسلام په انحرافي غونډو اودخانقاه په کنجونو کښي بندي کړ .

په اوسني (له استقلال نه وروسته) دوره کښې اسلامي خوځښتونه

سره له دي چي د « عثمان دن فودیو » د اسلامي نهضت لنډ عمر دانګلستان د استعماري واکمني له امله تر ډیري مودي پوري دوام پیدانکړ لیکن د اسلامي انقلاب جرړو دمسلمانانو په روح کښي ځاي نیولي اوټینګي شوي وي اودتاریخ په مختلفو دوروکښي یي دعطف مهم ټکي په خپل ځان کښي لیدلي دي . د انګلیسانو دواکمني په دوران کښي آزادي غوښتونکو حرکتونو په تدریج سره په ټولي نایجیریاکښي وده وکړه اوبالآخره ۱۹٥٤ میلادي کال کښي دغه هیواد استقلال ته ورسید اواستعماري داره ماران اوغلله له دغي خاوري نه ووتل . د انګلیسي ځواکونو له وتلونه وروسته دمسلمانانو ترمینځ اسلام غوښتونکي حرکتونه یوځل بیا پیل شول . دیني رهبران چي داستعمار دکلونو کلونو واکمني اوداسلامي فرهنګ دمسخ کولوشاهدوو ، د اسلامي هدفونو دپرمخ بیولو اودقدرت د لاس ته راوړلو لپاره له یوبل سره متحد شول . مسلمانان هم چي کلونه کلونه داسلام په مقدس دین اودیني

مرم

هم داخوری هم هغه

دخداي فضل دي زما هم پدي کلي ولس کښي ډېر دوستان ، ملګري ، اوانډیوالان دي . دچا سره دګاونډي توب او کليوالي اړيکي لرم ، څوك مي دښوونځي دوخت ملګري دي او ځينې نور مي دخپلو مشرانو په سترګو ښيژني . خو خداي شته چي سيدو اکا دټولو کښي زما زړه ته ډېر نژدي دي او چي کله مي هم زړه تنګ شي نوسيدو اکا سره دناستي او ملاقات په فکر کښي شم . سيدو اکا زموږ دکلي اوسيدونکي دي ، ډېر مهربانه او دنرم مزاج څښتن دي دا کـا دژوند خوږو او ترخو تجربو دهغه کړو وړو او دخبرو بهيرته بېل رنګ ورکړي دي . اکا پخپل وطن کښي دبزګري کار کسب کاوه خپل جغ او سپاره يي په کار اچولي وه او د خپل ځمکي غلې داني به يي دژوند تېرولو يوازني وسيله وه . سيدو اکا پخپله ليك لوست نه ؤ کړي خو داني ډېره لويه هيله وه چي کوچنيان يي دعلم ګڼه وښيسي او مکتب ووائي ځکه خو يي خپل دوه کوچني زامن په مکتب کښي دسبق ويلو لپاره کښېنولي وو . کله چي کمونستانو زموږ دګران ټاټوبي دقدرت واګي دروسانو په هرسته په غاصبانه توګه پخپل لاس کښي ونيولي نو زموږ دډېرو بي وزلو وطنوالو کار وبار په ټپه ودريد ځکه دجهازونو دبمباري او درندو توپونو دګوليو دباران لاندي کرني او ريښي داسي مثال درلوده لکه چي سړي په زوره ځان دمرګ په خوله کښي ورغورځوي . اوس نو اکا خپل زامن دمکتب نه وويستل او ددين او وطن ددښمنانو دمقابلي لپاره يي دجنګ ډګر ته وقف کړل دسيدو اکا يوزوي ددښمن سره په يوه مخامخ جګړه کښي دشهادت وياړلي جام په سر واړوه اويه بل زوي باندي يي ددښمن بيخ شوي ماين وچاودېده چي په نتيجه کښي يي دواړه سترګي او يوه پښه له لاسه ورکړه کله چي يو پلو ته په کلو او بانډو باندي دکمونستانو بمبارد زور وموند اويل پلو ته دکار او غريبي دروازه وتړل شوه نو سيدو اکا دهجرت لاره ونيوله او پاکستان ته مهاجر شو . اکا که څه هم په عمر سپين ږيري دي خو څه وکړي دکور نفقه خو ور په غاړه ده نو دناچاري له امله دي اړشو چي دلته دهټي (ډکان) کار وبار شروع کړي . سيدو اکا دانقلاب ددردونو ځېږه په مخ خوړلي ځکه خوبي هره خبره ددرد ځخه ډکه وه . کله ناکله زه هم هټي ته ورځم او په ګپه سره دزړه خواله کوو . هغه بله ورځ زه او اکا دواړه په هټي کښي ناست و دروانو پېښو او ناستو ولاړو حکايتونه اوشکايتونه مو سره کول اکا دخبرو لړي په لاس کښي نيولي وه ويل

عبدالمجيد هدايت خوګياڼي

يي : ټولو ته ټوالو ته معلومه ده چي زموږ هېواد وال دخپلي آزادي دتأمين او دخداي (ج) درضا دلاس ته راوړلو په خاطر هري قرباني ته چمتو شول . ځوانان مو شهيدان شول ، ماشومان مو بېنوا او پښيمان شول ،کوروڼه اوکلي مو په کنډوالو او بيدياؤ بدل شول اوس چي يو پلو کفري نړيوال وګورم زموږ داټول مصيبتونه اوکړاوته دخاورو سره خاوري کوي په يوه نامه اويل نامه ددي سپيڅلي جهاد دکمزوري کولو هڅي او کوښښونه کوي ، زموږ صف ته لاس را اوږدوي کله يوه لاسوهنه اوکله بله لاس وهنه کوي اويل طرف ته زموږ په جهادي ليکو کښي دايي نظمي او ګډوډي وګورم نو سخت مي زړه وغورځيږي او دمأيوسي سمندر مي په خپلو طوفاني څپو کښي لاووکړي او دځان سره وايم چي موږ څه وکړل اوخلك راسره څه کوي ؟ بيچيه ! داخلك ولي دومره بي رحمه او سخت زړي دي چي په موږ يي با لکل زړه نه ځوريږي با لکل رانده غوندي دي تور ته سپين او سپين ته تور وائي آخر داپه څه ! ماويل اکا زړه مه غورځوه انقلاب دي . انقلاب وائي همدي ته چي ګډوډي به وي ناپرساني به وي او نارساني به وي کيداي شي چي په همدي ګډوډي کښي مو خير وي انسان هيڅکله هم په خپل خير او شرګنهو او تاوان په پوره توګه نه پوهيږي سيدو اکا زما خبري راغوڅي کړي وي ويل: ستا خبره هم صحيح ده خو اوريدلي مي دي چي انقلاب دعربي ژبې ټکي دي چي معنئ بدلون اويل رنګ ته وائي خو خبره داده چي يو انقلاب دي اوبو اسلامي انقلاب موږ خو داسلامي انقلاب چيغي وهو کله چي يو انقلاب اسلامي وي نو بيا خو . . . ما او اکا لاپه همدي خبرو کښي ؤ چي هټي ته يو نابلده غوندي زلمي راننوت په يوه لاس کښي يي سګرټ اوپه بل لاس کښي يي څه کتابونه او نور کاغذونه نيولي ؤ دسيدو اکا نه يي دقلم غوښتنه وکړه اکا چي کله قلم ورکړ اوزلمي دهټي نه وتلو ويي ويل ماما تينکيو ! نور په خپله مخه ولاړ ، زلمي چي کله رخصت شو نو سيدو اکا يو ناامېده غوندي اسويلي وويست . ماوي اکا داڅوك دي وي ويل : داهغه د . . . زوي دي دکابل نه نوي راغلي هلته يي دهورا ناري وهلي اودلته . . . دسيدو اکا دي خبرو زما چرت هم بيخي راخراب کړ دهټي نه راجګ شوم په لاره تلم دځان سره مي سوچ کولو چي مزي خو دي خلکو وکړي هم يي داوطن وخوړ او هم يي هغه ځکه چي دلته . . .

رقابت های ...

مي باشد براي کشورهاي تازه آزاد شده آسياي ميانه جالب توجه باشد .

مقامات ترکيه ازسال (۱۹۲۰) بدينسو که مصطفي کمال مشهور به (تا ترك زمامدار آنکشور بود توجه شانرا بسوي اروپا معطوف نموده بود اما دراين اواخر مقامات ترکيه مايل اند تا توجه شانرا بسوي شرق وکشورهاي همسايه، آن معطوف نمايند . که البته به ګمان غالب اين روش مقامات ترکيه بخاطر آن است که درجامعه، اروپا به ترکيه چندان توجه بخصوص نشده است .

مقامات پاکستاني نيز بخوبي علاقمند اند ازاينکه امروز براي امريکائي ها حيثيت سپر درمقابل روسها راندارند و ورود کمك هاي امريکا به کشورشان پيوسته به خروج روسها ازافغانستان وقتاً فوقتاً کاهش يافته ، لهذا آنها ميخواهند تا نزد امريکائي ها به نوع ديگر که ضامن مفادات امريکا درمنطقه باشد جالب توجه قرارګيرند ، که البته اين موضوع نقش ميانجيګري پاکستان را در رابطه به کشورهاي آسياي ميانه بادرنظرداشت وجود يك رژيم باثبات درافغانستان احتوا مي نمايد .

دفيوضاتو او برکتونو . . .

روژه دبندګي او اخلاص ښه مظهر دي ، دخداي دمينې او ويرې مظهر ، دبې ريا عبادت مظهر ، په قدسي حديث کښي راغلي دي «الله تعالي فرمائي دبنيادم هر عمل دهغه له پاره دي پي له روژي نه ، روژه زما له پاره ده ، همداره به يي ثواب او مکافات ورکوم ، روژتي خوراك زما له پاره پريږدي ، خوښونه زما له پاره پريږدي اونفساني خواهش زما له پاره پريږدي » .

الله تعالي روژه ددي له پاره نده فرض کړي چي دخپلو بندګانو په تکليفول او کړول غواړي يادهغوي له لوږي تندي نه ورته څه ګټه د ، بلکي دبندګانو داخلاقي ودي او روحي تکامل او دارادي دپياوړتيا له پاره يي فرض کړي ده ، له صبر اوزغم سره دعادت کېدو ، دخداي دنعمتونو دقدر پيژندلو ، دخواخوږي دجذبي راپارېدو او دخداي دحکم په وړاندي غاړي ايښودلو له پاره يي فرض کړي ده او که دغه لوړ اهداف په کښي نه وي ، تشه لوږه تنده هيڅ په درد نه خوري ، په يو حديث کښي په دي مفهوم راغلي دي : « څوك چي دروغ ويل اوپه دروغو عمل کول پري نږدي ، خداي ديته اړندي چي روژتي خپل خوراك او څښاك ترك کړي » .

پاك الله دي موږ ته درمضان المبارك دمبارکي شپو او فيوضاتو نه ښېږه ګټي اخيستلو توفيق راکړي

رمضان ماه مبارك ، صبر واستقامت

